

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"

د امتیاز څښتن: د کندهار اطلاعاتو او فرهنګ ریاست

په اوونۍ کې دوه واره چاپیږي

د تأسیس کال: ۱۳۰۰لمریز شنبه ۱۷/رمضان المبارک/ ۱۴۴۴هـ ق ۱۹/وری/ ۱۴۰۲ل کال – ګڼه (۶)

Saturday-8-April-2023 Issue 6

نبوي مرغلري

رسول الله (ص) فرمایلي دي:

ژباړه: د روژه لرونکو د خولې بوی د الله (ج) په نزد د مشکو تر بوی ډېر غوره دئ.

«صحیح البخاري-صحیح المسلم»

د پاشدان بند د اسنادونو کارونه بشپړ سوي او د رغولو پاته چاري یې پیلیږي



د هرات ولایت سیمه ییز مسئولین د یاد ولایت د پاشدان بند د پاته چارو د بیا پیل او بشپړولو له پاره د هڅو خبر ورکوي.

د دې ولایت د والي مرستیال مولوي عبدالقیوم روحاني له باختر آژانس سره په خبرو کې ویلي، د پاشدان بند د اسنادونو کارونه بشپړ سوي، چې ډېر ژر به یې عملاً چاري پیل سي.

ورته مهال د هرات ولایت د هریرود مرغاب سیندیزي حوزې رئیس مولوي سردارولي مزمل د دغه بند جوړول د کرهنیزو ځمکو په خړوبولو او د اوبو سطحي لوړولو په برخه کي مهم ګام وبلئ.

د هریرود مرغاب سیندیزي حوزې رئیس زیاته کړه، د دغه بند چاري ۸۰سلنه بشپړي سوي او پاته شل سلنه چاري به یې هم په نژدې راتلونکي کي بشپړي سي.

هېره دي نه وي، چي دغه بند د ۵۴میلیونو متره مکعبه اوبو د زېرمه کولو او ۱۳ زره هکتاره ځمکي د خړوبولو ورتیا لري.

د موټرونو پر تورو ښیښو د شیخ صاحب حفظه‌الله د نوي حکم تطبیق رسماً پیل سو

پر وسایطو د تورو ښیښو څخه د ډېې کولو له پاره د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله د نوي حکم تطبیق رسماً پیل سو.

د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله د تازه ورکول سوي حکم د دریېمي مادې پر اساس، د نظامي او ملکي لېږدوونکو وسایطو پر ښیښو د تورو پردو «تور کاغذ او داسي نور» لګول ممنوع دي، هیڅ شخص نه سي کولای، چي د لېږدوونکو وسایطو ښیښې په تورو پردو سره وپوښي، خو وزیران، د امارتي ادارو رئیسان، د وزارتونو او د امارتي خپلواکو ادارو معینان او د وزارتونو او امارتي ادارو د لومړیو رتبو بستونو ۴مخ



د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست د ثبت برېښنایي سیستم پرانیستی

په کندهار کي د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست د ثبت برېښنایي سیستم د سه شنبې په ورځ رسماً پرانیستل سو، چي په همدې خاطر جوړو سوو مراسمو کي د کندهار ولایت مقام د بشري سرچینو او پراختیا رئیس مفتي میرزا محمد زاهد، د کندهار د کلیو د بیارغوني او پراختیا رئیس ملا عبدالجبار حکمت، د کندهار د شهیدانو او معلولینو چارو مرستیال ملا اختر محمد اخوند او یو شمېر نورو مسئولینو برخه اخیستې وه.

په همدې خاطر جوړه سوي ناسته چي د قرآنکریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت کولو سره پیل سوه. ۴مخ

د پیپونو یوې فابریکې سوونو کسانو ته کاري زمینه برابره کړې ده

په کندهار کي د پیپونو یوې تولیدي فابریکې په دې ولایت کي د پیپونو د اړتیاوو د پوره کېدو ترڅنګ، سوونو کسانو ته کاري زمینه هم برابره کړې ده.

د سپریم نېشنل کندهار PVC پیپ فابریکې اداري مسئول محمد نبي همت باختر خبري آژانس ته د دوشنبې په ورځ ویلي، شاوخوا ۲۰۰ کسانو ۴مخ

له نظامي او مسلکي زده کړو ۹۵ تنه سرتېري فارغ سول

د کندهار د اسلامي پولیسو له ښوونیز او روزنیز مرکز څخه ۹۵ تنه سرتېري تر نظامي او مسلکي زده کړو وروسته فارغ سول.

یادو سرتېرو ته په فکري، تاکتیکي او مسلکي برخو کي ۴۰ ورځې زده کړې ورکړل سوې، د فراغت په مراسمو کي یې د کندهار د والي مرستیال مولوي حیات الله مبارک، د اسلامي پولیسو د ښوونیز او روزنیز مرکز قوماندان مولوي مطیع الله فاروقي، ډېرو نورو مسئولینو او هیوادوالو برخه اخیستې وه.

د کندهار والي مرستیال د فارغ سوو سرتېرو د ستړیاوو او زحمتونو د ستاینې ترڅنګ وویل، د اسلامي امارت د مجاهدینو د مبارزې ۴مخ

په پنځمه ناحیه کي یو استنادي دېوال جوړیږي

د کندهار ښاروالۍ له لوري طلوع افغان په را استول سوي خبرپاڼه کي ویل سوي، چي کندهار ښاروالۍ د ښار په پنځمه ناحیه کي د سیدجان کلاچې اړوند، د چریو او یو استنادي دېوال جوړولو چاري یې پیل کړي دي.

په خبرپاڼه کي راغلي، دغه استنادي دېوال ۶۰۰ متره اوږدوالی لري، چي د نړۍوال بانک په مالي تمویل سره د UNOPS برنامې په مدیریت او د کندهار ښاروالۍ په تخنیکي مرسته د دوو نیمو میاشتو په موده کي جوړیږي او د دې پروژې چاري تر دې دمه ۲۵ سلنه بشپړي سوي، چي پر مهال یې ۲۵ تنو ته په مسلکي او ۱۲۰ تنو ته په نامسلکي ډول د کار زمینه برابره سوې ده.

له ۱۱۱۰ تنو علماوو څخه آزموینه پیل سوه

په کندهار کي د حاجیانو د لارښوونکو له پاره، له ۱۱۱۰ تنو علماوو څخه آزموینه پیل سوې ده.

په ۱۴۴۴ هجري قمري کال په کندهار کي د حاجیانو د لارښوونکو یا معلمینو له پاره د ۱۱۱۰ تنو علماوو څخه د یکشنبې په ورځ، په ارشاد، حج او اوقاف ریاست کي د آزموینې لړۍ پیل سوه.

د ارشاد، حج او اوقاف ریاست اړوند، د حج عمومي مدیر صالح محمد ارزښت وویل، دا آزموینه د ارشاد، حج او اوقاف وزارت، کندهار ولایت مقام، د علماوو شورا او د کندهار د ارشاد، حج او اوقاف ریاست څخه د ټاکل سوي هیئت تر څار لاندي اخیستل کیږي. ۴مخ

د پنځو میلیونو افغانیو په لګښت یو پل جوړ سو

د هلمند ولایت په ګرشک ولسوالۍ کي د پنځو میلیونو افغانیو په لګښت، یو پل جوړ او ګټې اخیستني ته وسپارل سو.

د ځایي چارواکو په وینا، یاد پل د کندهار–هرات پر لویه لاره د ګرشک ولسوالۍ پر عمومي بغرا د ۵ میلیونو ۴مخ

د ډنډ ولسوالۍ خلکو ته د سپورټ امکانات برابر سول

د کندهار ولایت د ډنډ ولسوالۍ په کلچه آباد کلي کي د حاجي شېر محمد حمزه په نامه یو ملي سوداګر له خوا د فوټبال معیاري لوبغالی او دوه د آب بازۍ حوضونه جوړ او ګټې اخیستني ته سپارل سوي دي.

د یاد لوبغالي او حوضونو د افتتاح په مراسمو کي د بدني روزني او سپورټ ریاست رئیس حافظ محمود آغا بشر، د کندهار فوټبال فدراسیون فني مرستیال حاجي حبیب جان، قومي مشرانو، ورزشکارانو او مینه والو ګډون درلودی. ۴مخ

د راشد خان په درو ویکټو اخیستلو ګجرات دوهمه لوبه هم وګټله

د هند په سوداګریزو سیالیو کي تېره شپه د راشد خان اړوند ګجرات ټیټانس لوبډلي ډهلي کپیټلز ته ماته ورکړه.

په دې لوبه کي لومړۍ توپوهنه د ډهلي لوبډلي وکړه او په ټاکلو شلو آورونو کي یې د اوو لوبغاړو په سوځېدو سره ۱۶۲ منډې ۴مخ

د کورنۍ غړي مو له هلاکته وژغورئ!

حسان مجاهد

د هري کورنۍ سرپرست لکه څنګه چي د خپل اهل او عیال له پاره په نفقه پیدا کولو کي زیار باسي، داسي باید د دوی سالمه دیني روزنه وکړي او د ګناه له هر ډول وسائلو څخه یې وژغوري.

الله (ج) ویلي دي:

ژباړه: «اې د ایمان خاوندانو! خپل ځانونه او اهل د جهنم له اوره وژغورئ!»

یعني په نېکو کارونو ورته امر وکړئ او له ګناهونو یې راوګرزوئ.

نن چي د اسلام په مقابل کي کومي ډلې راپورته سوي دي، یوازنۍ موخه یې له الله (ج) څخه د بندګانو لیري او پردي کول دي، دې موخې ته د رسېدو له پاره دوی غواړي، چي له بېلابېلو لارو څخه اسلامي ټولني له هر ډول فساد سره مخامخ کړي، په اسلامي ټولنه کي یې بیا ډېر تمرکز د مسلماني ښځې پر فساد دئ.

د استعمارګرو یو مشر ویلي: «یوه پیاله شراب او یوه نڅاګره ښځه د محمدي امت د زوال له پاره تر زرو توپونو اغېزمن دي.»

د یهودو په پروتوکولونو کي راغلي: موږ باید مسلماني ښځې د ځان کړو او په کومه ورځ چي مسلماني ښځې موږ ته لاس راکړي، بیا ممکنه ده چي موږ بریا ترلاسه کړو.

ډاکټر میدروبیرغر وایي: ښځه په اسلامي ټولنه کي یو له هغو پیاوړو قدرتونو څخه ده، چي کولای سي مسلمانه ټولنه فساد ته راوبولي، له منځه یې یوسي او یا یې له خپل دین څخه واړوي.

نن ورځ د کفارو له خوا د ښځو د فساد په موخه ځانګړي ویب سایټونه، ورځپاڼې، ډرامې، سریالونه او پروګرامونه رامنځته سوي، چي هدفونه یې پر اسلامي ارزښتونو او عقیدې باندي شک او بې باوري پیدا کول، مسیحیت، الحاد، فحاشي، عریاني او ناروامیني ته دعوت، په اخلاقو، عادتونو او فېشن کي د غرب تقلید، د وخت ضایع کېدل، په اسلامي احکامو کي سستي کول، د کورنۍ غړي په جنجالونو کي ښکېلول او داسي نور، ځکه کفار ښه پوهېږي چي مسلماني ښځي کولای سي، داسي اولادونه په خپلو غېږو کي وروزي چي سبا د اسلامي امت رهبران جوړ سي او کفري نړۍ ته لوی خطر وګرزي، ځکه نو دوی اړینه وبلله چي لومړی د ښځو پر فساد کار وکړي، تر څو د دوی اولادونه او ورپسې راتلونکي نسلونه ټول فاسد وګرزي، نو موږ د کورنۍ له هر مسئول څخه په درنښت هیله داده چي له کورونو څخه د فساد هر ډول وسائل ایسته کړي، د کورنۍ غړو ته انټرنیټي وسائل برابر نه کړي، ځکه د کم عمره نجونو او هلکانو ذهنونه تش او له معلوماتو بې برخي وي او هر ډول بد فکرونه په کښې د ډېري نقش ګرزي.

که د کورنۍ مسئول د فساد دا ډول وسائل مهار نه کړي، نو نژدې ده چي مېرمن او اولادونه به یې خپل، خو فکرونه به یې پردي وي، مېشت به په اسلامي ټولنه کي وي، خو خیالونه به یې پر اروپا پروازونه کوي، په نوم به مسلمان، خو د ژوند په انفرادي او اجتماعي برخو کي به د غرب لاروي وي. که موږ مسلمانان د ښځو په اصلاح کي پاته راغلو، بیا لیري نه ده، چي زموږ دین، عزت او سپېڅلی راتلونکی به په ستر تاوان کي راګیر سي.



د طلوع افغان خبري

پر یوه دسترخوان د ټولو افغانانو د راټولېدو وخت دئ

افغانستان په وروستۍ نیمه پېړۍ کې ډېر جنګونه لیدلي دي، د بهرنیو اشغالګرو هیوادونو د ظلمونو له لاسه افغانانو ښه ورځ نه ده لیدلې، په دې وخت کې د یو شمېر مغرضو کړیو او هیوادونو له لوري په افغانستان کې د بې اتفاقۍ د تخم پاشلو هڅه سوې او په پوره توان د دې کوښښ سوی، چې په افغانستان کې د یو کورني جنګ د رامنځته کولو، پراخولو او د افغانستان د تجزیې له پاره بستر برابر سي.

اشغالګر هیوادونه چې کله یو هیواد تر خپل تسلط لاندي راولي، تر ټولو لومړی په دې هیواد کې د تفرقې اچولو له پاره هڅه کوي، د قومونو ترمنځ په یوه او بله بهانه د اختلافونو د رامنځته کولو هڅه کوي او یو متحد ولس په مختلفو نومونو سره وېشي.

کله چې په یوه ټولنه کې د (موږ او دوی) خبره رامنځته سوله، نو بیا دا ټولنه په هیڅ صورت د اشغال په وړاندي مبارزه نه سي کولای او په ډېري اسانۍ سره د هر هیواد تر ولکې کېدلای سي.

د همدغي پالیسي د تطبیق له پاره دلته په افغانستان کې هم بېلابېلو مغرضو کړیو خولې توی کړي، خو نن ورځ الحمدلله د اسلامي امارت په راتګ سره قوي مرکزي حکومت رامنځته سوی، ټول هغه اسباب چې په ولسونو کې د تفرقې اچولو له پاره استفاده ځني کېده، له منځه وړل سوې او یا هم کنټرول سوې ده، پر لوېشت – لوېشت خاوره د اسلامي امارت بشپړ حاکمیت سته او ټول قومونه که پښتانه دي، که ازبک دي، که هزاره او که تاجک دي د یو شرعي نظام تر حاکمیت لاندي خپل ژوند کوي.

اوس یې وخت دئ، چې ټول افغانان په دې پوه سي، چې زموږ د پرمختګ راز زموږ په یووالي کې نغښتی دئ، که چیري موږ یووالی له لاسه ورکړو، نو استقلال او ملي هویت هم له لاسه ورکوو.

نن ورځ د افغانانو له پاره یو ډېر ښه فرصت مساعد سوی دئ، تر څو خپل ځانونه له نړۍ سره سیالان کړي، امنیت ټینګ سوی، اقتصادي وضعیت ورځ تر بلي د ښه کېدو په حال کې دئ او د تعلیم له پاره بهترین چاپېریال برابر سوی دئ، نو د دې عظیم فرصت څخه باید لازمه استفاده وسي، تر څو یو وار بیا افغانستان خپل ځان په نړۍ وپېژني او خپل پخوانی برم تر لاسه کړي.

په پایله کې یو وار بیا باید وویل سي، چې د افغانستان پرمختګ د افغانانو په یووالي پوري مشروط دئ، که افغانان یووالی و نه لري، نو د دې هیواد پرمختګ هسي یو خیال دئ، نو همدا یې وخت دئ، چې ټول افغانان لاسونه سره ورکړي او د هیواد د آبادۍ له پاره متې را ونغاړي.

اداره

اې تاریخه موږ بېرته راکړزو!

ذوالکفل "ذکي"

یو داسي وخت چې صلیبي نړۍ د مسلمان هر فرد ته د امت په نظر کتل، په هغه وخت کې چې موږ د خلافت څښتنان وو، واحده رهبري او سالم قیادت مو درلودی، حاکمانو به مو له وریځو سره خبري کولې، پراخې مځکې او د نه ماتېدونکي لښکر لرونکي وو، داسي لښکر چې یو سر به یې په فلسطین کې او بل د چین په سرحداتو کې دمه وه، پر اتلانتیک، مدیترانه او آرام سمندرونو زموږ د کښتیو راج چلېدی.

د رسول الله (ص) په لاس روزل سوی نسل د نړۍ تاریخ له سره ولیکی، آموي او عباسي خلافتونو د علم او عرفان په ډګر کې سیال نه درلودی، عثماني خلافت د نړۍ پر درو لویو وچو حکمراني کوله، فرانسې به د خلافت مرکز ته کلنی خراج (جزیه) رااستوله، امت مو د واحد بیرغ تر سیوري لاندي د خپل برم او عروج پړاوونه وهل.

متأسفانه! کله چې په اسلامي نړۍ کې وحدت له منځه ولاړی، حکامو د امت علیاء مفاهمو او مفادو ته شا او شخصي ګټې وپاللې، د عیش او عشرت په زندګۍ روږد او د خپل مسلمان ورور د نصرت څخه لاس پر سر او د غرب په لاس په ایستل سوو سرحدونو کې را ایسار سول، هماغه و چې د غرب له لوري یو نه تم کېدونکی مهلک استعماري طوفان راوالوتی، چې ټول امت یې لاندي کړ.

فرانسې اسلامي مراکش او الجزایر مستعمره کړل، ایټالیا لیبیا ونیوله، انګلستان د خپلي امپراطورۍ د پراختیا له پاره د استعمار منګلي د هند په اشغالولو تر افغانستانه رااوږدې کړې، کمونیزم د شرقي ترکستان اسلامي هیوادونه مستعمره کړل، په همدې ډول فلسطین، سوریه، اردن، مصر او ټوله اسلامي نړۍ مستعمره سوله.

استعمار د اسلامي نړۍ کاني زېرمې، نفت، تېل، سره او سپین زر او ټول قیمتي آثار ولوټل، نن چې اروپایي موزیمونه له قیمتي آثارو څخه مالامال دي، ټول هغه لوټل سوي آثار دي چې له افریقا او آسیا یې غلا کړل.

د اسلامي امت نصاب، ژبې، رسم الخط او تعلیمي ماحول یې غربي بڼې ته واړول، استعماري قوتونو د خپل استعمار په دوران کې په اسلامي امت کې اشخاص په خپل قالب کې د غربي کلتور او فرهنګ تر چتر لاندي وروزل، کلونه وروسته په امت کې یو داسي نسل رالوی سو، چې نومونه یې اسلامي، خو فکر او قلم یې غربي ول.

کله چې د اشغالګرو ټغر ورټول کړل سو، پر ځای یې داسي اشخاص پرېښوول چې غربي ګټو ته تر غربیانو څو قدمه ډېر متعهد پاته سول. هماغه و چې لیبیا، مصر، المغرب او الجزایر آزاد سول، خو اسلامي نظام او شریعت په کښې حاکم نه سو، هند افغانستان، عراق، سوریه، فلسطین او نور په لسونو اسلامي هیوادونه آزاد سول، خو اسلام ورته را نه غی، ځکه د اروپایانو تر وتلو وروسته دوی داسي څوک خپل ځای ناستي پرېښوول چې د همدوی ګټې یې تر دوی ښې پاللې او تر ننه یې پالي.

نن موږ په اسلامي نړۍ کې لسونه میلیونه روزل سوي او مجهز پوځیان لرو، خو د چا په صف کې ولاړ دي؟ د چا پر خلاف جنګېږي؟ د صلیب او که د جهادي حرکتونو؟ په امت کې سوونه میلیونه شاګردان په مکتبونو او پوهنتونونو کې لرو، خو د چا نصاب لولي؟ د چا دفترونه او هدفونه پر مخ وړي؟ کله چې موږ خلافت له لاسه ورکړ، وپاشل سولو، واحد امت مو پر ۵۷ ټوټو ووېشل سو، سرحدي جغرافیو کې را ایسار سولو، اقصی، اندلس او شرقي ترکستان مو له لاسه ورکړل او بالاخره ټول امت مو په شعوري او غیر شعوري ډول د غرب په لمن کې پرېوتی.

پېړۍ – پېړۍ وروسته افغان غیور ملت راپورته سو، درې واره مو هغه انګلیسي امپراطوري را وپرځوله، چې لمر په کښې نه ډوبېدی، شوروي اتحاد مو د کمونیزم له مفکورې سره یو ځای، د امپراطوریو په هدیره کې دفن کړی او بالاخره مو د یوویشتمې پېړۍ فرعوني قوت او super power له نړۍ وال اتحاد سره په داسي شرموونکي برخلیک اخته کړ، چې راتلونکي نسلونه به یې هم له نامه څخه په هیبت وي.

پر اسلامي افغانستان د اسلام توغ خپلي وزرونه را وغوړول، د الله (ج) پر مځکه د الله (ج) قانون پلي سو، یو داسي اسلامي نظام چې په معاصر تاریخ کې یې حاکمیت یو خوب او خیال ګڼل کېدی، حاکم سو.

په اسلامي امت کې د حریت انګېزه را وټوکېدله، له افغان جهاد څخه په الهام اخیستلو د نړۍ په ګوټ – ګوټ کې زلمیان له اسلامي جهادي حرکتونو سره یو ځای سول، قافلې جوړې او ګړندی یون کړي.

په شرقي افریقا کې د امت شبابو پر صلیبي متحدینو او طاغوتي نظامونو خوبونه حرام کړي، پراخې ساحې د مجاهدو ابطالو تر تسلط لاندي راغلې او ورځ په ورځ پراخېږي.

د غزوة الهند د فتحې په تکل په پاکستان کې ستر جهاد پر څپو سوی، د شام په مبارکه خاوره کې د خوارجي فتنې تر محوې وروسته د اسلام لښکري بیا منسجمې سوي، په عربي جزیره کې هم د مجاهدو ابطالو تحرکات ګړندي سوي، د نړۍ له ګوټ – ګوټه قافلې د امت له امجادو سره یو ځای کېږي، چې دا زموږ د راپورته کېدو پیلامې دي.

موږ بېرته راګرزو، بیا خلافت جوړوو، د واحدي رهبرۍ او واحد بیرغ تر سیوري لاندي دمه کېږو، پر اسلامي نړۍ واکمن طاغوتي نظامونه نړوو، بیا لښکري د اروپا پر لور خوځوو، د علم او عرفان ډېوې بلوو، خپل تېر برم ته ستنېږو.

د پند څنځیر

جواد "مجاهد"

– اړینه ده تر څو اصول درک سي، چې اصولي چاري په اصولي توګه پر مخ ولاړې سي، په ورځنیو کښته – پورته اړخونو کې اخلاص تر ټولو غوره اصل دئ، چې باید مراعات سي، که نه ټولې کړنې (دنیوي، اخروي) باطلې دي.

– د آخرت له پاره کار ضروري دئ، زه وینم چې دا دنیا له خوندونو ډکه ده، خو په دې دنیا کې داسي څه نسته چې د آخرت له خوند سره دې مقایسه سي.

– چې عقل سلیم سي، ادراک اسانه کېږي، نظر پراخېږي او زړه صافېږي.

– دغه اړیکي پر مادیاتو پوري مه تړئ! اړیکو ته د معنویت جامې ور واغوندئ، ملګرتیا وپالئ، داسي چې آخرت مو روښانه کړي. انسان باید پند واخلي، خو کاشکي چې وا یې خلي.

– اولي او غیر اولي وپېژنئ! یو غوره کار ته پر ښه کار ترجیح ورکړئ، د خپلو پلانونو ټول جوانب وسنجوئ.

– د نفس اصلاح ته مو متې را ونغاړئ! چې کله مو نفسونه د طاعت په څنځیر وتړل، بیا را وړاندي سئ او د دې سپیني دنیاګۍ (افغانستان) پر مخ پراته تور داغونه د (امر بالمعروف) په اوبو پرېولئ.

– چې په وسه مو پوره وه، نو له نواهیو څخه ځان او شاوخوا خلک وساتئ، دا مو مسئولیت دئ.

– دعاګاني ډېري کوئ، له خالق عزوجل سره اړیکه مو باید ځانګړې او پر نورو اړیکو باید ممتازه وي، په سجده کې ډېر وخت تېروئ.

– دا لیکل سوي کرښې یوازي د رنګ سیاهي مه ګڼئ! عملي یې کړئ، تر نورو یې هم ورسوئ، د پند دا څنځیر لا نور هم وغځوئ.

– زړونه مو نرم وساتئ! زړونه نرم ښه دي، په سختۍ کې مې خیر نه دئ لیدلی، موږ چې په مؤمنه ټولنه کې ژوند کوو، باید د (رحماء بینهم) مصداق جوړ سو.

– دغه مؤمن ښار د ډېر وخت له پاره د تورو تیارو په پنجو کې را ګیر وو. اوس د سپینو فرشتو په ښه په ښار کې خپاره سئ او د رڼاګانو مشالونه په کښې بل کړئ، چې د تیارو لښکري ماتې سي. په نېکیو امر وکړئ او له بدیو څخه لومړی ځان او بیا ټولنه را وګرځوئ.

– د خیر په هر کار کې مشوره کوئ او د شر کارونه مه کوئ، مشوره په عقل کې زیاتوالی راولي، بصیرت زیاتوي او د تحلیل قوه ځواکمنوي، بېړنۍ پرېکړې مه کوئ، نرم او په احتیاط چلېږئ.

– د خپل نفس غوښتني مو د یوې عامي نظریې په توګه پر ټولنه مه ور تپئ، دا خبره حتمي ده چې په ځینو موارد و کې ممکن ستاسو د طبیعت خلاف خبره یا پېښه وسي، باید نزاکت مراعات او پر نفس فشار راولئ، نفس ذوب کړئ، ویلي یې کړئ او و یې رټئ، تر څو له ستري فتنې څخه نجات پیدا کړئ.

– حتماً په ژوند کې ستونزي، سخت حالتونه او امتحانونه راځي، چې کله در باندي راغلل، نو تر هر څه مخکې له خالق عزوجل څخه د ژوند په کړلېچونو کې د بریمن مزل توفیق وغواړئ او بیا ډېر په غور او فکر سره د ستونزي حل حلاره را وباسئ او وارخطا کېږه مه.

– دغه سخت حالتونه دوام نه پیدا کوي، زه زیاتو خپلو نژدې ملګرو ته چې د صبر نمونې دي، د صبر توصیه کوم. بې صبري او د خالق عزوجل په را پېښو سوو (خیر او شر) باندي ناخوښي لویه بربادي ده، الله (ج) دې موږ ټول ځني وساتي او الله (ج) مو دې په خپل تقدیر باندي راضي لري.

– د موضوع پوره پلټنه کوئ! د غائبو په هکله د حاضرو خبري مه منئ او د درېیم په مخکې دوهم ته نصیحت مه کوئ.

– له چل او دوکې څخه هیڅکله هم کار مه اخلئ، ساده او پاک زړه واوسئ، دا مؤمنه ټولنه ده، مه یې بدرنګوئ!

– د ژوند په چارو کې له تدبیر څخه کار اخلئ، په پرېکړو کې له بېړې څخه کار مه اخلئ.

– که چیري د امیر له لوري پر کوم کار مامور سواست، نو آخرت په پام کې ونیسئ او وروسته یې تر سره کړئ، دنیاوال پر پرېږدئ، چې ستا په اړه څه وایي، هغوی دې خپل کار کوي او د امیر په اطاعت کې ډېر خیر دئ.

– څومره دي چې په وس پوره وه، نېکۍ وکړئ، حتی که له لاري څخه د ازغیو لیري کول هم وي، د آخرت تله در نه کړئ، ذهن به مو له دنیوي غمونو څخه سپک سي.

– اصل خو جهاد دئ، نو د مجاهدینو قدر وکړئ، مجاهد ته پر هغو کسانو چې ناست وي، څو چنده غوره والی ورکړل سوی دئ، تاسو په دې هکله له الله (ج) څخه وبېرېږئ او د مجاهدینو قدر وکړئ، الله (ج) مجاهد قدرمن کړی، تاسو یې مه بې قدره کوئ.

– پر نورو تر خپله وسه امر مه کوه، دا بده ده، تاسو جوړ یاست، الله (ج) په روغتیا نازولي یاست، نو چالاک او بیدار اوسئ! که هر څومره لوړ هم یاست، خو بیا هم له نورو څخه د هیڅ تمه مه کوئ.

– موبایل ته ډېر وخت مه ورکوئ، که یوه شېبه هم درته اسانه وي، نو مخ ځني واړوئ، داړتیا په اندازه یې استعمال کړئ، خو داړتیا تعین دې ستا نفس نه کوي، ځکه نفس دې دښمن دئ او ژوند دې ورانوي، آبدي ژوند.

– کوښښ وکړئ، چې له جماعت څخه بېل نه سئ. په مؤمنه ټولنه کې چې تاسو یوازي سئ، نو نفس او شیطان درته یو سي، بیا نو پټه جګړه ډېره درته سختېږي، له صالحینو سره صحبت کوئ، دا کار دې شخصیت جوړوي.

– د پند څنځیر مه پرېږدئ، چې کړۍ یې لنډې سي، ویې غځوئ، تر نورو یې هم ورسوئ او نورو ته د نېکو خبرو د رسولو په صدقه کې ځان شریک کړئ، عجبه اسانه کړ نه ده. نور بیا...

په روژه کي صبر او همدردي الله (ج) ته خوښ عملونه دي

لیکوال: م حمادافغان شیرزاد

دا چي روژه په خپله یو له هغو سترو عملونو او عبادتونو څخه شمېرل کېږي، چي بدله یې د مېزان په تله کي نه راځي، فرشتو ته الله (ج) فرمایي، چي د روژې بدله زه په خپله ورکوم، نو په داسي میاشت کي بیا درته دوه هغه غوره عملونه هم ښیم او په ګوته کوم یې چي له امله یې یو انسان د الله (ج) غوره بنده جوړېږي او په دواړو جهانونو کي بې انتها بدله ورکوي، چي یو یې صبر او بل یې مواسات او همدردي ده.

هسي خو صبر د انسان له پاره یو تر ټولو غوره او بهترین صفت دئ او دا یو له هغو سترو عملونو څخه دئ، چي د قیامت په ورځ به یې اجر او بدله د مېزان په تله کي نه ځائېږي، بلکي الله (ج) به صابر انسان ته بې انتها اجر او بدله ورکوي او بیا دغه صبر چي په خپل ذات کي دومره لوی عمل دئ، له صبر څخه کار اخیستل او بیا د روژې په بختوره میاشت کي چي هغه خپله له هغو عملونه څخه ده، چي اجر یې د مېزان په تله کي نه راځي، بلکي بدله یې الله (ج) په خپله ورکوي، څومره لوی د اجر او ثواب خبره ده.

همدا راز صبر د اولو العزم پیغمبرانو صفت دئ، هغه انسانان چي دا صفت غوره کړي، الله (ج) بې حسابه اجر ورکوي، ځکه الله (ج) په خپل عظیم کتاب کي فرمایي:

ژباړه: خامخا به صبر کوونکو ته بې حسابه اجر ورکول کېږي او بیا دغه صبر چي له امله یې الله (ج) لوی اجر ورکوي، په هغه میاشت کي کول چي د هر عمل ثواب او بدله په کښي څو چنده زیاتېږي، څومره د نېکبختۍ او سعادت خبره ده، هغوی کامیاب دي چي په هر عمل او کار کي له صبر څخه کار اخلي.

دا چي په روژه کي انسان د لوی رب عزوجل له پاره د سهار له سپېدو تر ماښامه بیا لوږه او تنده تېروي، د صبر یوه نمونه ده او دا د هغه لوی رب (ج) یوه ځانګړتیا هم ده، ځکه چي هغه له هر قسم خوراک او څیښاک څخه بې پروا او اړتیا ورته نه لري، نو کوم انسان چي وږی او تږی سي، هرومرو یې سر درد کوي او ځینو ته بیا په دغه حالت کي غوسه هم ورځي، نو په کار داده چي په عام چاپېریال او ټولنه کي دغه انسان پر خپل ځان کنټرول راولي او له صبر او زغم څخه کار واخلي، بخښنه چي یو ستر عمل دئ، په روژه کي تر سره کړي، تېر و بېر وکړي، تلوار او غوسه چي د شیطان یو صفت دئ، غوره نه کړي، تر څو یې د روژې ثواب څو چنده زیات او د الله (ج) له لوري په لویو انعامونو نازول سي.

په روژه کي چي شیطانان د الله (ج) له لوري تړل کېږي، د دوزخ دروازې بندېږي او د جنت ټولي دروازې پرانیستل کېږي، د دې له پاره چي انسان په پوره فکر او اخلاص سره الله تعالی (ج) ته متوجې او د شیطان له وسوسو خلاص غوره عملونه تر سره کړي، خپله لوږه او تنده عبث تېره نه کړي، بلکي د ځان له پاره یې د سعادت او د رب (ج) د رضا سبب وګرځوي، صبر په کښي وکړي او لکه څنګه چي الله (ج) او د هغه رسول الله (ص) د روژې صفت بیان کړی، هغسي یې سر ته ورسوي.

د الله (ج) محبوب پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي:

ژباړه: د روژې میاشت د صبر ده او بدله یې جنت ده.

انسان په خوراک کي صبر کوي، لوږه او تنده تېروي، له غلطیو او بدو کتو څخه صبر، له بد ویلو او غیبت کولو څخه صبر، د غوسې پر وخت صبر، پر عبادت صبر، د بدو اورېدلو څخه صبر او تر دې چي د غلط فکر څخه صبر، نو ځکه یې الله (ج) بدله هم بې حسابه ورکوي، انسان جنت ته داخلوي او هلته بیا لوی – لوی مقامونه ورکوي.

راځئ! په دغه میاشت کي د خپل محبوب پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا غوره صفت چي صبر دئ، اختیار کړو او کامیاب هم هغه انسان دئ، چي په هر کار او کړنه کي له صبر څخه کار اخلي.

د (۱۵) عادتونه پرېږدئ

ژباړه: خالد سیدي — لومړۍ برخه

موږ ټول ځیني ناوړه عادتونه لرو، لکه تر اوو ساعتونو کم خوب کول، خپل نوکان په خوله پرېکول، تمرین نه کول او داسي نور. ډېر داسي عادتونه سته چي موږ ته زیان لري، لېکن زیات نور یې داسي دي چي موږ یې تر سره کوو، خو په دې نه پوهېږو چي زموږ د بدن له پاره څومره خطرناک دي. دلته مو د هغو عادتونو لیست برابر کړی چي د روغتیا له پاره مو تر نورو عادتونو ډېر ضرر لري.

۱ – تر اوو ساعتونو کم خوب کول:

زیات خلک په دې فکر کي دي چي د ورځي له خوا لږ خوب کول، د شپې تر ناوخته وېښ پاته کېدل، ښه دي او همدا رنګه زده کوونکي د آزموینې په شپه تر ناوخته پوري وېښ پاتېږي، په دې سره به د دوی خوب پوره نه سي او په آزموینه کي به بې خوبه ناست وي، چي دا کار هم دوی ته خورا زیات تاوان رسوي، که چیري تاسو تر ډېرو ورځو پوري تر اوو ساعتونو کم خوب وکړئ، زیات امکان لري چي ستاسو د بدن معافیتي سیسټم او د بدن نور اجراآت له لاسه ورکړئ، کله چي ستاسو معافیتي سیسټم کمزوری سي، عادي ناروغۍ به شخص په لویې ناروغۍ اخته کولای سي. په کار ده چي هر شخص په شپه او ورځ کي له اوو څخه تر اتو ساعتونو پوري خوب وکړي.

۲ – منفي فکر کول:

مثبت اوسئ! نو هر څه به سم وي، مثبتوالی هر څه دي، دغه شان جملې موږ هره ورځ اورو، مثبتوالی تعصب نه دئ، بلکي زموږ د صحتمند بدن له پاره ضروري ګڼل کېږي. هغه شخص به همېشه ذهني ستړیا لري، چي ملګري نه لري، په ژوند کي له ډېرو مشکلاتو سره مخ وي او همداسي نور. دغه دوامداره ذهني ستړیا هم ستاسو معافیتي سیسټم کمزوری کوي.

۳ – تر ډېره وخته غوږۍ (ګوشۍ) په غوږونو کي ساتل:

زیات خلک سته چي تر ډېره وخته د ویډیو لیدلو او اډیو اورېدلو له پاره په غوږونو کي غوږۍ ایږدي، د ضرورت شی دئ، استعمال یې کړئ، خو داسي نه چي په دوامداره توګه مو په غوږونو کي ایښي وي او عادت مو وګرځي. دغه کار به مو د اورېدلو حس کمزوری کړي او د وخت په تېرېدو سره به له لویو مشکلاتو سره مخ سئ، کله چي مو د ضرورت پر وخت استعمالولې، نو په یاد ولرئ! چي آواز یې کم کړئ.

۴ – تر ډېري مودې پر کوچ یا چوکۍ کښېناستل:

تر ډېري مودې پوري پر چوکۍ کښېناستل او یا هم ځیني خلک کله چي په رخصتۍ ولاړ سي، نو تر ډېره وخته په کور کي ناست وي چي دا کار مو هم صحت ته زیان رسوي، که ټلوېزیون ته تر ډېري مودې کښېنئ، نو زیات امکانات سته، چي تاسو به د زړه او ستر ګو تکلیف سره مخ سئ، دغه کار به مو ټمبل کړي او له زیاتو نورو روغتیایي مشکلاتو سره به مخ سئ. نور بیا...

د موبایل ټیلیفون مخترع

د ۱۹۷۳ مېلادي کال د اپرېل پر ۳ مه امریکایي انجینر مارتین کوپر موبایل ټیلیفون اختراع کړ.

کوپر چي اوس ۹۴ کلن دئ، فرانس پریس خبري آژانس ته په یوه تازه مرکه کي ویلي، د ملفون د اختراع پر مهال یې په موټرولا کمپنۍ کي کار کاوه او د انجینرانو یوې ډلې ته یې د موبایل ټیلیفون د لومړنۍ ټکنالوژۍ لارښوونه کوله، موټرولا کمپنۍ پر دې پروژې میلیونونه ډالر پانګونه کړې وه او هیله یې لرله چي خپلې سیالي کمپنۍ بیل سیسټم (Bell System) ته ماته ورکړي.

بیل سیسټم په اویایمه لسیزه کي د ټکنالوژۍ یوه ستره کمپنۍ وه. بیل سیسټم کمپنۍ تر دوهمې نړۍوالي جګړې وروسته د ملفون د جوړولو په فکر کي سوه، دې ستري امریکایي کمپنۍ د موبایل ټیلیفون جوړولو ایډیا مطرح کړله او د ۱۹۶۰ لسیزي په وروستیو کي یې په موټرونو کي موبایلونه نصب کړای سول، خو د هغوی د موبایل ټیلیفون محدودیت سبب کېدی، چي څوک یې له ځان سره و نه ګرځولای سي، ځکه چي بېټرۍ یې غټه وه.

د مارتین کوپر له پاره په موټر کي د ټیلیفون د غوږۍ موجودیت د ملفون معنی نه لرله. ده د ۱۹۷۲ مېلادي کال په وروستیو کي پرېکړه وکړه، یوه داسي وسیله جوړه کړي چي هر ځای کار ځني اخیستل کېدلای سي، نو له هغو ټولو امکاناتو څخه چي موټرولا کمپنۍ ده ته سپارلي ول، د داسي متخصصانو په ګومارلو کي یې کار واخیستی، چي د نیمه هادي، ترانزیسټورونو، فلټرونو او آنتنونو په برخو کي یې کار کاوه. دغه ټیم درې میاشتي شپه او ورځ کار وکړ، تر دې چي بالاخره د هماغه کال د مارچ میاشتي په پای کي یې لومړنی ګام واخیستل سو او ډینا ټک (DynaTac) ټیلیفون یې ننداري ته وړاندي کړ.

کوپر د دغه ټیلیفون په اړه ویلي: «هغه څه باندي یو کېلو وزن درلودی او بېټرۍ یې د شاوخوا ۲۵ ساعتونو خبرو له پاره کفایت کاوه. دا کومه ستونزه نه وه، خو خبره دا وه چي دا ملفون دومره دروند و، چي چا ۲۵ دقیقې په لاس کي نه سوای نیولای.»

په موبایل لومړني ټیلیفوني خبري:

کوپر ویلي، دې ته اړتیا نه وه چي په دې ټیلیفون دې په اول وار اورېدې خبري وسي، باید کار یې کړی وای، نو غوره وګڼل سوه چي تر بل هر چا ښه داده چي له سیالي کمپنۍ سره خبري په وسي.

«د ۱۹۷۳ م کال د اپرېل میاشتي پر دریمه د نیویارک په شپږم واټ کي ولاړ وم، ذهن ته راوګرځېدل، چي باید په مقابل شرکت کي خپل رقیب، ډاکټر جویل انګل ته ټیلیفون وکړم.

زنګ مي ورواهه او کله چي یې غوږۍ پورته کړه، ورته و مي ویل: جویل! مارتین کوپر یم. زه په یو ګرځنده لاسي ټیلیفون له تا سره خبري کوم، خو په حقیقي معنی موبایل ټیلیفون شخصي له ځان سره د ګرځېدو وړ دئ.

مقابل لوري غلی و، فکر کوم غاښونه به یې چیچل.»

لومړني موبایل ټیلیفونونه ډېر ګران ول، د هر یوه بیه نژدې ۵۰ زره ډالره وه.

شعري او آدب

د طلوع ځلانده ډیوه

غزل

عبدالواسع شاکریار

درانه لاس او سخت ګذار د عزرائیل دئ
څه عجبه کاري وار د عزرائیل دئ

***

د روحو په اخیستلو مقرر دئ
دا مسلک او دا کردار د عزرائیل دئ

***

نه یې حال نه یې احوال دئ بیا راغلی
چي تېر سوی څوک پر لار د عزرائیل دئ

***

هره ورځ د آدم ذات په ښار کي ګرځي
هره ورځ ګرم بازار د عزرائیل دئ

***

له خپل وخته اضافه ثانیه نسته
ناممکنه انتظار د عزرائیل دئ

***

چي پر سر د مځکي ګرځي حاضر دمه
د هغو نفس په کار د عزرائیل دئ

***

یوه ورځ به خامخا ور سره مخ سي
مخ پر لوري **شاکریار** د عزرائیل دئ

غزل

نوراحمد قرآن مل

د قیامي په غرور کي درته خم سم
ستا د میني په سرور کي درته خم سم

***

د جهان د رنګینو تجلې وي
د رڼا وو په هر نور کي درته خم سم

***

د فنا له درد او رمزه مستثنی یې
د تخلید په تذکر کي درته خم سم

***

توروي اوښکي د عسل غوندي لګېږي
د امید په تنوور کي درته خم سم

***

درته خم سم رحیم ربه درته خم سم
د غفران په شهور کي درته خم سم

***

د قرآن او د محمود به شفعي غواړم
"**قرآن مل**" په هر ضرور کي درته خم سم

غزل

حیات "همت"

بدبخته لا هغسي یې بد نامه لکه مینه
زم زم در په کښي هم چښمه جامه لکه مینه

***

سره له دومره حسنه لمر تیتېږي د شپې پښو ته
دنیا له لویه سره ده ناکامه لکه مینه

***

بخښنه دي وي یار ته دي پر خوله را وړلای نه سم
په زړه کي به مي پاته یې سلامه لکه مینه

***

عجبه ده چي هر څومره زړېږي ښکلی کېږي
مثال بې درته ووایم ګلفامه لکه مینه

***

تازه یې اوس قدم واخیست ماشومه ده "**همته!**"
تر اوسه مي غزل ده ډېره خامه لکه مینه

Tolo E Afghan Journal

طلوع افغان مدیریت له ټاکلي لیکنیز معیار سره سم، د لیکنو په اصلاح کې د لاسوهنې حق لري.

ګرانو لوستونکو! ستاسو څخه په ډېر احترام هیله کېږي، چې دا سپېڅلې پاڼې بې ځایه و نه غورځوئ!

مسئول مدیر: بریالی "فیضي"
د تصحیح مسئول: بسم الله "غزنی"
کمپوز او ډیزاین: نصیراحمد "صابر"
د مدیریت شمېره: ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزیع مدیریت شمېره: ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پته: علامه حبیبي واټ – اطلاعات او فرهنګ ریاست
د برېښنالیک پته: Afghan.tolo@yahoo.com

Founded in 1921 — Issue: 6 — Established in 1300 Hijri

(۱) مخ پاته: د ډنډ ولسوالۍ خلکو ته د سپورټ امکانات...

د کندهار د بدني روزنې او سپورټ ریاست رئیس ویلي، د یاد لوبغالي او حوضونو پر جوړېدو ۳۲ زره امریکایي ډالره مصرف راغلي، چې د حاجي شېر محمد حمزه له لوري ورکول سوي دي.
او زیاته یې کړه چې د یاد تاجر له لوري د دې لوبغالي تر څنګ، بل همداسې لوبغالی هم جوړېږي چې د جوړېدو چارې یې رواني دي.
هغه له حمزه څخه مننه وکړه، چې د یاد لوبغالي په جوړولو سره یې د ډنډ ولسوالۍ خلکو ته د سپورټ کولو امکانات مساعد کړي او له خپله اړخه یې د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړی دئ.

(۱) مخ پاته: د پنځو میلیونو افغانیو په لګښت یو...

افغانیو په لګښت د ګرشک ښاروالۍ له لوري جوړ سوی دئ.
د ګرشک ښاروال وویل، یاد پل د ۴۲ مترو په اوږدوالي او د ۴ مترو په پلنوالي د دوو کلونو په موده کې جوړ سوی دئ.

(۳) مخ پاته: د راشد خان په درو ویکټو اخیستلو...

جوړې کړې.
د ډهلي له پاره «ډیوډ وارنر» تر نورو زیاتې ۳۷ منډې وکړې.
په توپ اچونه کې د ګجرات لوبډلي له پاره راشد خان په څلورو آورونو کې ۳۱ منډې ورکړې او درې لوبغاړي یې وسوځول.
ګجرات لوبډلي ورکړل سوی هدف د «سای سودرسن» د ۶۲ منډو په مټ د لوبې په ۱۹م آور کې د څلورو لوبغاړو په سوځېدو سره پوره او سیالي یې وګټله.

(۱) مخ پاته: د موټرونو پر تورو ښیښو د شیخ صاحب حفظه الله ...

کارکوونکي د دې مادې په لومړۍ فقره کې له درج سوي حکم څخه مستثنی دي.
په همدې هدف د سه شنبې په ورځ د کندهار د والی مرستیال مولوي حیات الله مبارک په ځانګړې او جدي سپارښتنه د دې حکم د تطبیق چارې رسماً پیل او وویې ویل، د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله د حکم مطابق باید په کندهار کې د ټولو درې ګونو ارګانونو دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت او استخباراتو ریاست اړوند ټول په حکم کې داخل دوهم بست رئیسان، د آمریتونو آمرین، د مدیریتونو مدیران، د ټولو حوزو آمرین، د ټولو ولسوالیو ولسوالان او امنیه قوماندان، د نورو ټولو ملکي او نظامي ادارو مسئولین، مجاهدین او دلګۍ مشران په حکم کې داخل مسئولین مکلف دي چې ژر تر ژره د خپلو وسایطو توري ښیښې سپینې کړي او په دې حکم عمل وکړي.
د والی مرستیال وویل، د کندهار ولایت مقام او د امنیې قوماندانۍ مسئولین به په ټول کندهار کې د دې حکم د تطبیق په برخه کې په بشپړه توګه هڅې وکړي او په حکم کې د داخلو نظامي او ملکي ادارو مسئولینو ته به هیڅکله اجازه ور نه کړي، چې په تورو ښیښو لرونکو وسایطو کې تګ او راتګ وکړي او ټول هغه امرونه او کارډونه، چې د کندهار ولایت مقام او یا هم امنیې قوماندانۍ له لوري صرف د تورو سیښو اړوند حکم کې داخلو کسانو ته ورکول سوي، سر له سبا څخه ټول لغوه دي، خو یوازې او یوازې په حکم کې مستثنی مسئولین ګټه ځني اخیستلای سي.
د کندهار ولایت مقام ځینو مسئولینو د سه شنبې ورځې په ماښام د حکم د تعمیل له پاره د دوهمې حوزې اړوند د سټډیوم د چیک پاینټ څخه د تورو ښیښو د پاکېدو کمپاین پیل کړ، چې د ډېرو حوزو مشرانو، امنیه قوماندانانو او نورو مسئولینو هم د حکم تعمیل وکړ.

د (۱) مخ پاته: د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست...

لومړی د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست مرستیال وویل، دا برېښنایي سیستم یې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت په همکارۍ جوړ او ترتیب کړی، چې نور به د شهیدانو کورنیو، یتیمانو او کونډیانو ته د دوی د حقونو ترلاسه کولو په برخه کې پوره اسانتیاوې برابروي او هم په بشپړه توګه روڼتیا وي او د هر ډول درغلیو مخنیوی به سل سلنه سوی وي.
ورپسې د کندهار ولایت مقام د بشري سرچینو او پراختیا رئیس د دې مهم ګام اخیستلو په برخه کې د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست هڅې وستایلې او وویې ویل، دا سیستم به وکړای سي، چې یتیمانو، کونډیانو او معلولینو ته خپل حق په پوره شفافیت سره ورسوي او زیاته یې کړه، یتیمان، کونډیاني او معلولین پر موږ ځانګړی حق لري او موږ باید د دوی د حقونو په ورکولو کې دغسې ډول اسانتیاوې ورته برابرې کړو او پرې نه ږدو چې د دوی د حقونو په ورکولو کې درغلۍ وسي.
همدا راز د کندهار د کلیو د بیارغونې او پراختیا رئیس د اسلام له نظره د یتیمانو او کونډیانې پر حقونو هر اړخیزه وینا وکړه او ویې وویل، د همدې یتیمانو د پلرونو، د معلولینو د بدن د غړو او د همدې کونډیانو د خاوندانو په قربانیو دا نظام تر دې ځایه راغلی او دا ځای د ډېرو لویو – لویو هستیو د بچیانو ځای دئ، نو تاسې باید هیڅ یتیم، کونډه او معلول خواشینی نه کړئ او خپل حقونه یې پر وخت او له ځنډه پرته په ښه طریقه ور ورسوئ.
په وروستیو کې د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست اړوند د یاد برېښنایي سیستم مدیر نواب شاه آغا ویلي، مخکنی کاغذي سیستم ډېر له ستونزو ډک وو، چارې یې په ځنډ کېدلې، هم په کښې د درغلیو شتون وو او نه له مرکز سره تړلی وو، خو د دې برېښنایي سیستم په فعاله کېدو سره به ټول ثبت پر برېښنایي تذکرو کېږي، مراجعینو ته به اسانتیاوې برابرې وي، په بشپړه توګه د درغلۍ مخنیوی کوي او هم دا سیستم له مرکز سره تړلی، چې د دې مرکز ټول معلومات راساً د وزارت د ثبت سیستم ته داخلېږي.

(۱) مخ پاته: د پیپونو یوې فابریکې سوونو کسانو ته...

ته یې د کار زمینه برابره کړې ده.
د هغه په خبره، فابریکه یې پر نړیوال معیار برابر پیپونه تولیدوي، چې په نړیواله سطحه استفاده ځني کېږي.
د همت په وینا، تولیدات یې هلمند، زابل، روزګان، غزني، لوګر، پکتیا، پکتیکا او ځینو نورو ولایتونو ته هم صادرېږي.
په ورته وخت کې په کندهار ښار کې یو دوکاندار حاجي وکیل چې د پیپونو پیر او پلور کوي، باختر خبري آژانس ته ویلي، هغه پیپونه چې په هیواد کې د ننه تولیدېږي، کیفیت یې نسبت هغو پیپونو ته چې له نورو هیوادونو څخه واردېږي، ډېر ښه وي، خلک یې زیات خوښوي او پلور یې هم نسبت وارد سوو پیپونو ته ښه دئ.
هغه د خلکو څخه غوښتنه وکړه، ترڅو د هیواد پر داخلي تولیداتو باور ولري او د خارجي تولیداتو پر ځای، د داخلي تولیداتو څخه استفاده وکړي.

(۱) مخ پاته: له نظامي او مسلکي زده کړو ۹۵ تنه سرتېري...

هدف د زورېدلي ولس له کړاوونو، بربادیو او ستړیاوو خلاصول ول، چې د الله (ج) په نصرت او د ولس په همکارۍ اسلامي نظام قائم سو.
اوس د مجاهدینو مسئولیت څو برابره زیات سوی او هغه وخت خپل مسئولیت په ښه ډول ادا کولای سو، چې د ولس سره ربښتیني او په ورین تندي نژدې و اوسو او د زړه له تله یې خدمت وکړو.
مولوي حیات الله مبارک پر فارغ سوو سرتېرو ږغ وکړ، چې عاجزي غوره کړئ، د الله (ج) شکر ادا کړئ، خوښي وکړئ، د ولس سره عدل وکړئ او د الله (ج) سپېڅلی اسلامي قانون د مځکې پر مخ نافذ کړئ!
د کندهار د اسلامي پولیسو د ښوونیز او روزنیز مرکز قوماندان بیا فارغ سوو سرتېرو ته وویل، چې موږ د الله (ج) د دین له پاره خدمت کوو، ولس ته په اسلامي چوکاټ کې خدمت وکړئ او د ننده د الله (ج) د رضا له پاره اجرا کړئ.
دیني عالم محمد نسیم سهر له فارغ سوو سرتېرو څخه غوښتنه وکړه، چې ترلاسه کړې زده کړې د اسلامي نظام د بقا، هیواد ساتنې او د خلکو له پاره په نېک خدمت تر سره کولو کې عملي کړي.
وروسته د مسئولینو له خوا د اسلامي پولیسو د ښوونیز او روزنیز مرکز پنځو تنو استادانو او فارغ سوو سرتېرو ته ستاینلیکونه او د فراغت اسنادونه ورکړل سول.

(۱) مخ پاته: له ۱۱۱۰ تنو علماوو څخه آزموینه...

د هغه په وینا، د لوېې دورې څخه د فراغت سند درلودل، د سیرت او صورت پر شریعت برابرېدل او د حاجیانو د خدمت کولو وړتیا درلودل، یو شمېر هغه شرطونه دي، چې د حاجیانو معلمینو ته ټاکل سوي دي.
د ارزښت په خبره، له ګډونوالو څخه ۱۱۱۰ تنو علماء کرامو څخه به په شپږو ورځو کې آزموینه واخیستل سي او تر آزموینې وروسته به د ارشاد، حج او اوقاف وزارت له لوري له کندهار څخه د حاجیانو د لارښوونکو یا معلمینو په توګه ۵۵ تنه بریالي علماء کرام انتخاب کړل سي.
په ورته وخت کې د آزموینې نظارت کوونکي او د کندهار د علماوو شورا غړي حاجي مولوي داؤد آغا ویلي، د معلمینو پروسه په شفاف ډول روانه ده، وړ معلمین به د همدې آزادې سیالۍ له لاره انتخاب سي، ترڅو د حاجیانو له پاره په هره برخه کې صحي خدمت وکړي.